# د درویش دراني د شاعرۍ سبکي او تخنیکي اړخونه


لیکوال
برېښنا لیک پته
اورکید پېژند پاڼه

**پوهنمل نجیب الله مخلص**
د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې استاد. بدخشان ولایت. افغانستان
najeebullahmukhlis7332@gmail.com
https://orcid.org/0009-0009-5962-5690

لیکوال *
برېښنا لیک پته
اورکید پېژند پاڼه

**پوهنیار محمد طاهر جار**
د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې استاد. بدخشان ولایت. افغانستان
tahirzaar5@gmail.com
https://orcid.org/0009-0000-6508-7977



## لنډیز

درویش درانی زموږ د لوی پښتانه ټبر هغه پیاوړی لیکوال او شاعر دی چې په ټولو ادبي حلقو کې ځانګړی مقام لري. دی نه یوازې په غزلو کې د ځانګړې لارې څښتن دی، بلکې د نظم په لیکلو کې هم د ګوتو په شمېر معاصرو ناظمانو په ډله کې د ځانګړي ځای لرونکی دی. په شخصیاتي لحاظ هم درویش درانی د پام وړ شخص دی، لکه څرنګه چې درویش تخلص کوي، په همدې ډول د درویش صفته شخصیت څښتن دی او لکه د خپل فن او تخلیق له رویه چې عاطفي، سوړ او نرم مزاج او ځانګړی سبک لري، په همدا شان د عاطفي، ساړه او نرم خوی له مخه په ټولنې او راشه درشه کې عاطفي، سوړ او نرم چلند ترسره کوي. د دې څېړنې ټولنیزه موخه دا ده چې لوستونکي درویش درانی وپېژني او ترڅنګ یې د ده د شاعرۍ له سبکي او تخنیکي اړخونو څخه خبر شي د دې څېړنې ارزښت او اهمیت چې د څېړنې له تحلیلي -توصیفي میتود څخه په کې ګټه اخیستل. شوې ده ،په دې کې دی چې تر دې دمه دغه موضوع چا د درېش دراني په اشعارو کې نه ده څېړلې .همدې تشې ته په کتو، اړتیا وه چې د څېړنې د ستونزې په توګه وڅېړل شي .د څېړنې موندنې ښیي چې درویش درانی په معاصرو شاعرانو کې د ځانګړي سبک خاوند دی .د څېړنې پایله هم دا په ډاګه کوي چې درویش دراني په ځانګړي سبک کې شاعري کړې ده او شعري تخنیکونو یې شاعرۍ ته ځانګړی رنګ او خوند ور بخښلی دی.



**بنسټیز ویي:** تخنیک، تصویر، درویش، سبک، شاعر، شعر



* najeebullahmukhlis7332@gmail.com

# Stylistic and technical aspects of Darwish Durrani'sPoetry


Author * **Najeebullah Mukhlis**
Pashto department, Faculty of Literature, Badakhshan University,
Email najeebullahmukhlis7332@gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0009-5962-5690

Author **Mohmmad Tahir Jaar**
Pashto department, Faculty of Literature, Badakhshan University
Email tahirzaar5@gmail.com
Orcid https://orcid.org/0009-0000-6508-7977



## Abstract

Darwish Durrani is a powerful writer and poet of our great Pashtun tribe who holds a special place in all literary circles. He is not only the owner of a special way in ghazals, but also holds a special place among the few contemporary Nazims in writing poetry.In terms of personality, Darwish Durrani is also a remarkable person. Just as Darwish is his pen name, he has the personality of a dervish. Just as he has an emotional, cold, and gentle temperament and a unique style in his art and creativity, he also behaves emotionally, cold, and gentle in society and in the world. The social purpose of this study is to introduce readers to Darwish Durrani and, at the same time, to the stylistic and technical aspects of his poetry. The value and importance of this study, which uses the analytical-descriptive research method, lies in the fact that no one has studied this topic in Darwish Durrani's poetry so far. Given this gap, it was necessary to examine it as a research problem. The findings of the study show that Darwish Durrani has a unique style among contemporary poets. The results of the study also show that Darwish Durrani wrote poetry in a unique style and that his poetic techniques gave his poetry a special color and flavor.


**Keywords:** Technique, Image, Darwish, Style, Poet, Poem.

* najeebullahmukhlis7332@gmail.com

## سریزه

درویش درانی زموږ د اوسمهالي ادبي بهیر په هغو ګوتشمېرو سرلارو ادیبانو کې راځي چې د نظم او نثر په دواړو ډګرونو کې د قلم نیلی داسې ځغلولی دی چې په نثر کې یې د علمي تبحر له لارې د "پښتو عروض" او "د پښتني ژوند کره وړه" په لیکلو سره دا جوته کړې ده چې درویش درانی د پراخې مطالعې په لرلو سره د پراخ علم څښتن دی او د نظم په برخه کې هغه مقام ته رسېدلی چې پښتو ادب ته یې یوه پراخه خزانه وربښلې ده او اوس اوس یې ځینې شاعران په شعوري او ناشعوري ډول د ده د شعر فکر او مضمون رااخلي او تر اغېزې لاندې یې راغلي دي. په دې څېړنیزه مقاله کې مو له بېلابېلو ماخذونو څخه په ګټې اخیستنې سره په لومړي کې د درویش دراني لنډه پېژندنه راوړې او بیا مو د نوموړي د او تخنیکي اړخونو شاعرۍ پر سبکيهر اړخیز بحث کړی دی.

### د ستونزې بیان

په پښتو ادبیاتو کې په ټولیزه توګه چا تر دې دمه د درویش دراني د شاعرۍ سبکي او تخنیکي اړخونه نه وه څېړلي او دا د وخت غوښتنه ده چې د نورو معاصرو شاعرانو ترڅنګ د نوموړي د اشعارو سبکي او تخنیکي اړخونه په ډاګه شي، ترڅو راتلونکي شاعران د ده سبک سره بلد شي او ویې څاري، نو دغه څېړنیزه مقاله د همدې ستونزې د حل او بیان په موخه لیکل شوې ده.

### د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: درویش درانی څوک دی او د شاعرۍ سبکي او تخنیکي اړخونه یې کوم دي؟

فرعي پوښتنې:

۱. سبک څه ته وایي؟

۲. سبکپوهه پر څو ډوله ده؟

۳. آیا درویش درانی د ځانګړي سبک خاوند دی؟

### د څېړنې ارزښت

په عام مفهوم هغه پوهنه چې ادبیات مطالعه کوي یا د ادبیاتو په هکله څېړنه کوي ادب پوهنه بلل کېږي .په ادبیاتو کې د درویش دراني د شاعرۍ سبکي او تخنیکي اړخونه موضوع ځکه د ارزښت وړ ده چې په معاصرو شاعرانو کې د درویش دراني مقام ترې له ورایه څرګندېږي او همدا راز کله چې نور شاعران په شاعرۍ کې د ده له سبکي او تخنیکی اړخوو څخه خبر شي ، نو په شعوري ډول د ده د شعر فکر را اخلي او د ده په

تأثر شعر لیکي .د دې څېړنې بل ارزښت دا هم کېدلی شي چې راتلونکي شاعران د ده له سبک سره تر اشنا کېدو وروسته د ده سبک وڅاري او د وخت په تېرېدو سره لرې نه ده چې په یو ځانګړي مکتب بدل شي.

**د څېړنې موخې**

اصلي موخه: د درویش دراني د شاعرۍ عمده سبکي او تخنیکي اړخونه‌په ننبه کول.

فرعي موخې

۱. د سبک پر لغوي او اصطلاحي معنی پوهېدل

۲. د سبکپوهې ډولونه پېژندل.

۳. د درویش دراني له ځانګړي سبک سره اشنا کېدل

## د څېړنې شالید

د درویش دراني د شاعرۍ سبکي او تخنیکي اړخونه تر سرلیک لاندې څېړنه تر اوسه چا نه ده ترسره کړې او دا یوه نوې څېړنه ده. په یو لړ کتابونو کې د درویش دراني او دده د شاعرۍ په اړه مقالې خپرې شوې دي چې په لاندې ډول دي:

۱. استاد شپون او درویش په ننګرهار کې: دا اثر د فولکلور د یو ورځني سیمینار او د وتلیو لیکوالو حبیب الله رفیع، پروفیسور سیال کاکړ، ډاکټر اسرار او رحمت شاه سایل د دوه ورځنیو نمانځغونډو په ویاړ او د لال پاچا ازمون په زیار د بېلابېلو لیکوالو د مقالو راټوله شوې ټولګه ده چې پر ۱۳۸۷ لمریز کال د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکې ټولنې له لوري خپره شوې ده.

لکه څنګه چې یې له نامه څخه جوتېږي، په دې کتاب کې د دوو وتلیو لیکوالو او شاعرانو سعدالدین شپون او درویش دراني په اړه ویناوې او مقالې خپرې شوې دي.

۲. د لونګو دریځې: د صدیق الله بدر له لوري د پښتو معاصرو ادبیاتو په اړه له بېلابېلو لیکوالو سره د کلید راډیو لپاره بحثونه شوي او دغه بحثونه بیا په همدې کتاب کې د افغاني موسیقۍ د ودې، بډاینې او پراختیا سیمینار په ویاړ پر ۱۳۸۹ لمریز کال خپاره شوي دي چې یو بحث د "درویش درانی د جلا سبک، خوند او رنګ شاعر" تر سرلیک لاندې زموږ موضوع رانغاړي.

۳. ادب، تنقید او تیوري: د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د نعمت الله صدیقي د مقالو ټولګه ده چې پر ۱۳۹۵ لمریز کال کتاب خپرندوی خپره کړې ده او یوه مقاله په کې د "د درویش دراني ډیپلوماتیک سبک" تر سرلیک لاندې لیکل شوې ده چې دغه مغتنمه مقاله تر ډېره زموږ له موضوع سره اړخ لګوي.

۴. جادوګر هنر: دا د اسدالله غضنفر د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د مقالو ټولګه ده چې پر ۱۳۹۳ لمریز کال د مومند خپرندویې ټولنې له لوري خپره شوې ده او یوه مقاله په کې د "درویش او

خوب" تر سرلیک لاندې لیکل شوې ده چې دغه مقاله څه ناڅه زموږ له موضوع سره اړخ لګوي.

۵. پښتونواله: شپږمیاشتنۍ مجله ده چې د امتیاز څښتن یې پښتو نړیواله مرکه او مسؤل مدیر یې محمد صـــادق ژړک دی. د دغې مجلې د لومړي کال (۲۰۱۶ زېږدیز) په لومړۍ ګڼې کې د راقم الحروف یوه مقاله د "په ادبیاتو کې موضوع توارد یا د مجروح او درویش د دوو نظمونو پرتلیز جاج" تر سرلیک لاندې لیکل شوې ده.

## د څېړنې میتود

د دغې څېړنې د لیکلو پر مهال له تحلیلي - تشـریحي میتود څخه ګټه اخیســتل شــوې او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی چې اکثره لـه لومړي لاس کتـابونو،علمي څېړنیزو مقـالو او ددې ترڅنګ د اړتیا پر مهال له نورو ځانګړو اځځلیکونو هم ګټه اخیستل شوې ده.

## د څېړنې موندنې

### د درویش دراني لنډه پېژندنه

قلمي نوم یې درویش درانی او خپل اصلي نوم یې عبیدالله دی، چې د لوی پښتانه د کهاله د پښین د ګلستان په سیمې کې د ۱۹۵۳ زېږدیز کال د جون په میاشتې کې زېږېدلی، خو له آره د کندهار د ارغستان ولسوالۍ اوسېدونکی دی او کورنۍ یې د محمد نادر شاه د واکمنۍ پر مهال له خپل آر ټاټوبي څخه ګلســتان ته لېږدېدلې ده او وروســته د کوټې ښــار ته کوچېدلي او اوس هم په قریب الذکر سیمې د ژوندانه شپې او ورځې پر مخ وړي.

د درویش درانی پلار ملا احمد شاه او نیکه یې ملا علي محمد نومېږي چې له یوې ستانه کورنۍ سـره اړیکه لري. درویش خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې په کوټه کې پر مخ وړې دي. نوموړي د پښتو ژبې د ادبیاتو په برخې کې د ماسترۍ پر تر لاسه کولو سربېره د پاکستان په کراچۍ کې د انګرېزي ژبې د ادبیاتو په برخه کې هم ماستري تر لاسه کړې ده او له زده کړو سره سره دم ګړۍ د کوټې په حکومتي کالج کې استاد او د درس و تدریس چارې هم پر مخ وړي چې د ایسوسي ایټ پروفیسر تر درجې پر مخ تللی دی. (وفا، ۱۳۹۸: ۳۲)

### سبک

مخکې تر دې چې په دې څېړنیزه مقاله کې د درویش دراني د شاعرۍ پر سبکي او تخنیکي اړخونو وغږېږو اړین ګڼو، چې لومړی د ســبک پر لغوي او اصــطلاحي معنی او همدارنګه د سبکپوهې پر ډولونو بحث وکړو.

سبک یوه عربي کلمه چې معنی او مفهوم یې د سرو او سپینو زرو ویلې کول او په قالب کې اچول دي. په اصطلاح کې سبک د یوه ادیب (شاعر او لیکوال) د تخلیق ځانګړي روش ته چې د هغه په وسـیله خپل ادراک، احســاس او مافي الضــمیر بیان کړي، ســبک بلل کېږي. په همدې ډول

ســـبک د یوه هنرمند د تخلیق او هنر د وړاندې کولو طرز او لارې ته وایي چې یوه تخلیقي اثر ته تاثیر او معنٰی آفریني وربښي. (هاشمي، ۱۳۸۱: ۸۱)

## د سبکپوهې ډولونه

که چېرته د یوه ادیب د سبک بېلابېل اړخونه راوسپړل شي، دې ته توضیحي سبکپوهه (Descriptive Stylistics) وایي او که د زماني په اوږدو کې د یوې ژبې د سبکونو او یا یوه ادیب د هنري پنځونو ادلون بدلون رااوڅار شي، دې ته زماني سبکپوهه (Historical Stylistics) وایي او که د یوې زماني په یوې ځانګړې مقطع کې د یوې ټولنې یا ډېرو ټولنو د سبکونو په اړه څېړنه کېږي، نو دې ته ټولنیزه یا جغرافیایي سبکپوهه (Geographical Stylistics) وایي. (درمل،۱۳۹۵: ۳۶). موږ د همدغې سریزې په پلمه د توضیحي سبکپوهنې له مخه د درویش دراني د سبکي اړخونو جاج اخلو.

## د درویش دراني د شاعرۍ سبکي اړخونه

درویش درانی په خپل شـــعر کې تر ډېره ژمن دی چې د الفاظو په لمنې کې فکر او پیغام ټولنې ته وړاندې کړي او هر کلام یې له دې اړخه ډېر پوخ، تراشـــلی او منلی دی، ځکه چې دی له دې لارې خپلو خلکو ته داســـې تعلیم ورکوي چې د هغوی له ژوند ســـره تړلی دی، د هغوی پر ژوند اغېزې ښندي او د ستونزو په اړه ورته د حل یو ذهنیت ورکوي او همدا لامل دی چې ډېر ژر زړونو ته لاره مومي. درویش درانی چې کله هم فکر او پیغام په شعر کې رانغاړي، نو ارایه او پېرایه یې په داســـې الفاظو کې بدرګه کېږي چې یوازې وچ کړاس فکر او پیغام نه وي، بلکې موازي په خنګ کې ورســـره شـــعریت هم خپله لاره وهي او یوه شـــاعرانه مفکوره وړاندې کوي. نو که څوک یې راسره ومني، نو زه درویش دراني ته د مفکر شاعر لقب ورکوم.

په هنري ټولنې کې د فکر، احســـاس، ادراک او ذهنیت له مخه درې ډوله هنرمندان شـــته. یو هغه چې د تودو احساساتو لرونکي دي او خپلو مخاطبینو ته خپل فکر او احساسات په الفاظو کې په داســـې ښې وړاندې کوي چې د هغوی احســـاســـات او هیجانات راپورته کوي. دویم هغه چې د منځلارو افکارو او احساساتو لرونکي دي او خپلو مخاطبینو ته خپل احساسات او افکار په داسې ډول وړاندې کوي چې هغوی ته ذهنیت ورکوي او د فکر کولو لارې ورښـــیي او په ټولنې کې د روانو چارو په اړه پوهاوی ورکوي او پر هر څه یې پوهوي، خو د تشـــدد کولو ورته هیڅ نغوته نه کوي. درېیم هغه هنرمندان یا ناظمان دي چې د جانان غمونو پســـې اخیســـتي دي او یا هم د هیڅ فکر او احساس لرونکي نه دي، بلکې تش د الفاظو اوډونکي او یا هم پوچ فکري دي.

په دغه درې ګوني وېش کې لومړنی دوې ډلې په خپلو مخاطبینو کې د فکر کولو، پاللو او روزلو روحیه پیاوړې کوي چې لومړنی یې د تشدد او دویمه یې د عدم تشدد لارښـوونه کوي او درویش

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

دراني هم د همدغې دویمې ډلګۍ په سرلارو استازیو کې راځي او که ښه یې ووایم، نو درویش دراني د یوه ولس او ټولنې هغه رهبر ته ورته دی چې په ټولنې کې د روانو بېلابېلو ټولنیزو مسایلو په اړه ولس ته داسې تعلیم ورکوي چې د هرې چارې په اړه ژور فکر وکړي او داسې د حل لاره ورته په ګوته کوي چې په هغې تشدد نه شته؛ که څه هم د ده پر ولس چې کومې لوبې روانې دي، نو له زغم پورته دي او په ځینو حالتونو کې تشدد بویه، خو دی بیا هم د فکر کولو وایي.

درویش چې هر څه لیکلي دي او که هر څومره یې فکر لولنګره شوی دی، نو تر شا یې یوازې او یوازې د لوی پښــــتانه د کهاله غم، دردونه او کړاوونه پراته دي. په دې اړه دی په خپله هم وایي:
"زما دغه هر څه د افغانســـتان د دې غمیزې په پس منظر کې دي. دا که توره ده هم، که په دار ځړېدل دي او که وینې دي، که زخمونه دي. تاسو پوهېږئ چې په دې پینځه ویشت، دېرش کاله کې څومره زخمونه لګېدلي دي، څومره انسانان شـهیدان شـوي دي، څومره توپونه ورېدلي دي، څومره اسلحې استعمال شوې دي. د ټولې دنیا اسلحه دلته په دې خاوره استعمال شوې ده. د دې په نړولو کې دا ټولنې برخه اخیســتې ده، هیڅ یو داســې ملک به نه وي چې په ورانولو کې یې بې برخې پاتې شـوی وي. نو دا یوه دومره لویه غمیزه ده چې د دې دغه درد، دغه غم که د ټولې دنیا په شاعرانو تقسیم کړې، نو د هغوی کار پرې کېږي. د هغوی په شاعرۍ کې په کار ده چې د دې اظهار وشي. ( بدر، ۱۳۸۹: ۶۹)

څومره لوی فکر دی چې تر ده راچاپېره دی او په ذهن کې یې په‌ځپو دی او د خپل وطن دغه روانه غمیزه نوموړی دومره لویه ګڼي چې که د دنیا پر ټولو شــاعرانو باندې وویشــل شــي، بیا هم دومره ډېره ستره ده چې د هغوی کار هم راسره پرې کېږي. درویش له جنګه سترې ښکاري، نو خپل احساسات په دې ډول بیانوي:

رنـګ بـه وي تـر څـو پـورې پـه ویـنـه، تـوره مـاتـه کـړه
زړه د خــلــکــو وګــتــه پــه مــیــنــه تــوره مــاتــه کــړه
هر کـانـی پـه وینو بـانـدې ســور دی، اوس مینځـل غواړي
شــــه زیـاتـي راکـوز د آس لـه زیـنـه تـوره مـاتـه کـړه
نـه د مـاشـــوم مـخ ګـوري او نـه د شـــا لـیـلا ســـیـنـه
پورته شه درویشه! دا بې دینه توره ماته کړه(دراني، ۲۰۰۰: ۲۶۷)

دا هغه جنګي لوبه ده چې هغې کې یې د ټولنې د کار سرونه او سرې بایللي دي، نو ځکه وایي:

دا چـــې ځـــړېـــږي مـــخـــامـــخ درتـــه پـــه دار ســـــرونـــه
په دې وطن کې بس همدغه وو د کار سرونه (دراني، ۲۰۰۰: ۲۶۶)

د درویش په شاعرۍ کې یوه بله بارزه موضوع د پښتنو تر مینځ پر بې اتفاقي راڅرخي او په دې

برخې کې يې بلا ډېره شاعري کړې ده.

دښـــمـن وهـمـه، مـګـر وار مـې پـر خـپـل سـر لـګـېـږي
دوی وايــي، مـه پـرېـږده، ګـوزار دې بـرابـر لـګـېـږي
زه او زمـا د کـور څـراغ دې تـه اړ کـړي يـو وخـت
زه ټوله شپه دننه ناست يم، دی بهر لګېږي (دراني، ۲۰۰۰: ۶۲)

د مضـمون او شـعري رمزونو له مخه پر دې دوو بيتونو ډېرې خبرې ليکل کېدی شـي. د بېلګې په ډول، دښـمن وهل کېږي، خو ګوزار د ده پر سر لګېږي، نو دا څنګه دښـمن شو چې هم يې وهي او هم وربانديې خوږېږي؟ او يو بل درېيمګړی (دوی) هم شـــته چې د دغې عمليې محرک ګڼل کېږي، نو دا څوک شـو؟ په حقيقت کې دغه دښـمن دی په خپله، د ده د وجود غړی، د ده ورور او د ده دوطن بچی دی او دغه درېيمګړی په اصـل کې د ده او د ده د وطن د بچي تر مينځ نفاق اچوونکی او د بدبينيو رامينځته کوونکی دی.

په همـدې ډول په دويم بيت کې "زه، وخـت، شــپـه، بهر او د کور څراغ" د بېلابېلو تـاويلاتو او تفسيرونو له مخه ګڼې ماناوې ورکوي چې اصلي کوډونه دي او تر شا يې بلا خبرې پرتې دي.

په همدې ډول دغه لاندې بېلګې هم د ځيرنې وړ دي:

مـا خـپـلـه تـوره کـړه د ورور پـه زړه کـې مـاتـه خـدايـه!
چـې دښـــمـن راغـی زه پـه دوه لاســـه ؤم پـاتـه خـدايـه!
چـــې زه ؤم ونـــه، دوی لـــمـبـــې د اور راوبـــلـــې
چـې زه ايـره شـــوم دوی خـبـر ورکـړ هـوا تـه خـدايـه!
ښــــی لاس مـې پـروت ؤ د ســـيـنـې پـر ژور زخـم بـانـدې
لـه مـجـبـورۍ مـې کـيـڼ لاس پـورتـه‌کـړ دعـا تـه خـدايـه!
پـه اوښـــکـو مـيـنـځـم زه دروېـش دا خـپـل خـنـجـر لـه ويـنـو
د خپل دښمن پر حال ژړا راغله و ما ته خدايه! (دراني، ۲۰۰۰: ۲۲۹)

د پورتني غزل په وروستي مقطع بيت کې هم "دښمن" په همدې مانا سره کارول شوی دی.

ليکوال او شاعر محمد صادق ژړک د دروېش د شعر موضوعي اړخ او فکر په اړه وايي: "... ده پر تېرو ټولو دسيسو چې زموږ پر پاکه خاوره وشوې، ژور نظر ساتلی دی، هر څه يې په روڼو سترګو څارلي دي، څکه خو وايي:

دښمن پــه زوره ننوت په کـور د پښتانه
خو دغه کار يې هم وکړ په زور د پښتانه

موږ او تاسـو وليدل چې زموږ هر دښـمن زموږ کور ته زموږ پر اوږو سـپور راغلی دی، خو بيا هم

زړه راباندې سوړ شوی نه دی، نور یې هم په خپلو منځو کې سره اخته کړي یو او ځینې خو اوس هم لګیا دي، په ظاهره د مســلمانۍ شــېپلۍ راته رږغوي او په باطن کې مو هر څه له منځه وړل غواړي، په وروروژنه او خوروژنه یې روږد کړي یو. درویش دراني یې په شعر کې داسې انځوروي:

زموږه توریالي بوخت دي په داسې یوه جنګ

چې چا ته سکه ورور او چا ته پلار دی مخامخ

او دغه ډول بیا په یوه بل شعر کې وایي:

غشــي لـه بـلـه غـلا کـوو، تـوره پـه پـور اخـلـومـوږ

له هرې خوا چې وي وسله په ضد د ورور اخلو موږ

زموږ د بابا زامنو چې له کومه وخته دغه په دغه ډول ناوړو کارونو لاس پورې کړی دی او چې دښمن خپل کار ښه پرېمانه ځنې اخیستی، نو هله بیا د دوی سر د دښمن په دسیسو خلاص شوی دی، بیا نو یواځې تش له ارمانه نور هیڅ نه دي ورپاته شوي. (ازمون، ۱۳۸۷: ۶۹)

درویش په یوه غزل کې له لحده له خپل ورور سره داسې مکالمه کوي:

زمــا ګــرانــه وروره! زه ســتــا بــې مــدده

دښــمــن نــه شــوم رســولای تــر لــحــده

کــه ژونــدي یــو، نــو پــر ســر بــانــدې مــو څــلــه

ده ولاړه د اســمــان دا شــنــه ګــنــبــده

مــېـږي تــا تــه درښــودلــه څــه خــبــره

راکــوز نــه شــوې ورتــه تــه لــه خــپــلــه قــده

غــوڅــوي مــې لــکــه خــپــل مــړونــد لــه ځــانــه

زمــا ورونــه غــواړي ولــې د ځــان بــده

چــې تــر ښــو دې بــایــد لانــدې وای درویشــــه!

هـغـه خـاوره سـتا پـه سـترګـو کـې پرته ده. (دراني، ۲۰۰۰: ۷۴)

دا غزل په ټوله کې اســان او عام الفهم ښــکارېږي، خو په درېیم بیت کې یې "مېږی او قد" هغه کلمات دي چې د خپلې ذاتي مانا تر څنګ نورې ماناوې هم افاده کوي. شــاعر په دې بیت کې خپل ځان او یا هم د قاتل خواخوږی له "مېږي" ســره تشــبېه کوي او د "قد" کلمه د تکبر، غرور، ناغېږی او نه منلو په مانا سره کارول شوی دی.

درویش ســربېره پر دې چې د یوه خواخوږي د خبرې او پند اورېدلو خبره کوي، د یوه رقیب د خبرې د اورېدلو سپارښتنه هم کوي او دغه خبرې د مار له زهرو سره تشبېه کوي او وایي چې دغه زهر هم کله کله په کارېدلی شي.

دا د رقیب خبرې هم له یاده مه باسه ته
دا د مار زهر به دې هم چېرته په کار شي اشنا!

له شـــعري رموزو نه نیولې د دې بیت تر مضـــمونه پورې پر دې بیت یو کتاب خبرې ممکنې دي. مثلاً د رقیب مغرضـانه خبرې یې زهر ګڼلې دي چې سـړی وژلی شـي. رقیب یې مار بللی دی چې له ټکه پرته یې بل چل نه زده؛ خو څرنګه چې د مار زهر په درملو کې کارېږي او خلک د وژلو پر ځای له مرګه راګرځوي، دغسـې د رقیب خبرې هم کله ناکله ښې وي. ښـې په دې وي چې د یوه چا په اړه سـړی له افراطي خوشـباورۍ راګرځوي او په نظر کې یې توازن پیدا کوي. له دې بیته ډېر پیغامونه راوځي. لومړی داچې د خپل دښـمن هم درناوی په کار دی چې دښـمني یې ښـایي کله ناکله سـتا حیثیت او شـخصـیت ته ګټه ورسـوي، تا ته د ودې او پرمختګ زمینه برابره کړي. دویم دا چې نړۍ یواځې په خوږو، خوشـحالۍ او ملګرتیا نه چلېږي، د خوږو- ترخو، خوشـحالۍ- خپګان او دښـمنۍ- دوستۍ پر تضـادونو ولاړه ده. درېیم یې د دښـمنۍ له تجربې هم ښـایي په ډېر ښه ځای کې استفاده وکړي او دا درسره یوه تجربه پاتې شي. (ښکلی، ۱۳۹۴: ۲۰۵ ـ ۲۰۶)

"د درویش په بیت کې د "رقیب، مار، خبرې او زهر" کوډونه آر دي، خو "دا او اشـــنا" او ښـــایي ځینې نور کوډونه مرسـتیال کوډونه دي چې له اصـلي کوډونو سـره د مفهوم په بشـپړتیا کې مرسـته کوي.

د درویش په شعر کې "رقیب، مار، خبرې او زهر" ته ځکه اصـلي کوډونه وایو چې تر شا یې نورې ماناوې پټې دي.

درویش چې د صـــراحت شـــاعر دی، اســـان کوډونه کاروي او په اســـانه یې ســـړی د زړه په مراد پوهېدی شي. له دې نه ښکاري چې څه کوډونه اسان او څه پېچلي وي. (ښکلی، ۱۳۹۴: ۲۰۷)

درویش چې له دې هر څه څخه سترې شوی دی، نو د اسـمعیل یون په خبره "... د ملت جوړونې او ملتپالنې ډېر ایډیالونه یې راټوکولي دي او لا ټوکوي یې. ده په خپل شـــعر کې د خپلې ټولنې د درملنې لپاره نسـخه او درمل دواړه وړاندې کړي، لومړی یې یوه ناروغي تشـخیص کړې او بیا یې درمل په ګوته کړي دي. د یوه بریالي شـاعر د بري راز په همدې کې دی چې نیمګړتیا تشـخیص او حل لاره یې هم په ګوته کړي.

درویش وایي:

چې دلتـه وکړې بـاچـاهي، داســـې ســـړی نـه ښـــکـاري
په دې ځنګل کې هر څه شـــته، مګر ز مرۍنه ښـــکاري
چـې اړاوه تـرې مـخ، هـغـه ســـیـنـې ورکـې شـــوې
چې یې د ســـپر کـار ورکـاوه، هغـه تنـدی نـه ښـــکـاري

مـخ دې څـرګـنـد دی، مـګـر زلـفـې پـه پـړونـي پـټـې
څراغ دې بـل، مګـر د دې څـراغ لـوګـی نـه ښـــکـاري
درویـشـــه دلـتــه پـر اوړو بـانـدې ســـرونـه ډېـر دي
مګـر و مـا ته پـــه دې کاڼو کــې غـمـــی نــه ښکاري

سرې په پښتو کې هغه کلمه ده چې ظاهراً خو د یوه شخص لپاره کارول کېږي، خو د دې کلمې اصطلاحي او مطلوبه مانا هماغه ده چې د یو پوره او کره شخص لپاره راځي، لکه خوشحال بابا چې یې د دستار سړی بولي، نه د هر شخص یا هر بني آدم لپاره . (ازمون، ۱۳۸۷: ۷۷)

## د درویش دراني د شاعرۍ تخنیکي اړخونه

د درویش دراني د شاعرۍ تخنیکي اړخونه په لاندې ډول دي:

## حادثه جوړونه

د درویش په شعرونو کې د سبکي خصوصیاتو تر څنګ د هغه د شعري تخنیکونو په اړه اسدالله غضنفر وایي: "دی د غزل په بیتونو کې معمولاً یوه حادثه جوړوي. ظاهراً یو بیت وي، خو په کې یوه حادثه، یو داستان او یو حکایت بیانېږي، چې غالباً ډېر اثرناک وي.

مثلاً دی وایي:

غاصب زمـا وطـن تـه راغـی، ؤ تــر ډېــره دلـې
خو ککرۍ یې کړه د تلو په وخت کې هېره دلې

وګورئ، یو څوک راغلی دی، دلته یې وخت تېر کړی دی او بیا چې یې ماته کوله، نو د تلو او ماتې په وخت کې یې ککرۍ پاتې ده؛ دا یوه کامله حادثه ده. په یوه بیت کې حادثه جوړول او حکایت جوړول دا د درویش دراني د طرز یوه مهمه برخه ده. (بدر، ۱۳۸۹: ۷۲ - ۷۳)

د غضنفر دغه تحلیل کټ مټ زموږ ستړګو ته د بدیع د علم د تلمیح صنعت ودروي، خو زه ورباندې دا خبره ورسرباري کوم چې تلمیح موږ ته دوه ډوله پېښې بیانوي. یوه، هغه چې دقیق تاریخ ولري او یا یوه معلومه تاریخي پېښه بیان کړي او دویمه، هغه چې یوه حادثه، پېښه او حکایت موږ ته بیان کړي، خو دقیق تاریخ یې معلوم نه وي، چې ښه مثال یې هم د درویش دراني پورتنی بیت دی.

## تصویر جوړونه

غضنفر د درویش د شاعرۍ یوه بله غوره ځانګړنه د داسې تصویرونو جوړول دي چې چې یوه فضا او چاپېریال کې محسوسېږي: "درویش داسې تصویرونه جوړوي چې موږ په کې یوه فضا احساسوو. ځینې تصویرونه د رنګونو وي، شین رنګ ته اشاره وي، ژېړ رنګ ته اشاره وي او سره رنګ ته اشاره وي، خو ځینې تصویرونه بیا داسې وي چې رنګ نه وي په کې، خو په سترګو

باندې یو شی لیدل کېږي، هندسي اشکال یې لیدل کېږي. د ده تصویرنه چې دي، یوه لویه فضا او یو هندسي شکل زموږ سترګو ته درو‌ي چې دا هم ډېر اثرناک وي.

مثلاً درویش وایي:

له ډېره وخته غریب ستا په انتظار ولاړ دی

د حق د لارې لارویه! مخته دار ولاړ دی

وګورئ! یوه منطقه ده، په منځ کې دار دی او دار هم ولاړ دی. دا یوه فضا او یوه وهمناکه فضا ده چې زموږ سترګو ته یو شی دروي. درویش هندسي تصویرونه ډېر زیات لري او دا ډېر اغېزناک وي. (بدر، ۱۳۸۹: ۷۳)

## منطقي تسلسل

د درویش دراني د شعرونو بل اړخ دا دی چې په یوه بیت کې ډېر موضوعات په داسې ډول رانغاړي چې په هغو کې یو تسلسل موجود وي یعنې یوه خبره له یوه مشخص ځایه پیلېږي او تر یوه بل مشخص ځای پورې یې رسوي. په همدې ډول، لومړی داسې بلا ډېر اسمونه ذکر کوي او بیا یې تر یوه مشترک صفت او حکم لاندې راولي چې دغه صنعت د بدیع د علم په کتابونو کې اِعداد بولي.

شونډه پر شونډه او پر شونډه سور پېزوان د پاسه

زما د زړه کوګکی په سوځي دغه درې سکروټې. (دراني، ۲۰۰۰: ۱۹۲)

زه یم، شپه وي، تنهایي وي او نیمګړي ارمانونه

یو ساعت نه زه ویده شم او نه ستړي ارمانونه

بېلتون تریخ دی، صبر ګران دی، مانې زور غواړي بې حده

اوس به ته هم یې پښېمانه، ما هم کړي ارمانونه

لوظ د سرو شونډو دروغ ؤ، ست د تورو سترګو فریب ؤ

خو په دې باندې به پوه کړي خوک سپین زړي ارمانونه

ارمانجن زړګی مې سپک شو چې مې اوښکې شوې رواني

داسې ښکاري لکه وي چې اوبو وړي ارمانونه. (دراني، ۲۰۰۰: ۲۱۲)

د مرونډ خوب، د شونډو مې، د زلفو سیوري غواړي

زما زړګی لکه ماشوم د اسمان ستوري غواړي. (دراني، ۲۰۰۰: ۲۱۷)

چارګل، نته، خالونه او پېزوان سره يو ځای شول
زما و مرګ ته څومره قاتلان سره يو ځای شول. (درانی، ۲۰۰۰: ۲۲۳)

دا يو لګيا يو، يو څراغ تر بل څراغه پورې بل رسوو
مورږ تر سهاره د رڼا د خورولو دا عمل رسوو. (درانی، ۲۰۰۰: ۳۵)

بانه، وروځې، ليمه، غمزه، وربل، زخه او خال
د تورو بلاګانو ټبر پېژنې که نه؟

اسدالله غضنفر د درویش د پورتني بيت په اړه کاږي: "دلته د اولې مصرعې اووه واړه اسمونه د تورو بلاګانو د کورنۍ د غړيتوب په مشترک صفت کې سره شريک شوي دي.... په بيت کې ايجاز، حيرانتيا، چستي او په کثرت کې وحدت پيدا کړي دي او زړه تشبېه يې تر ځوانو ځوانه کړې ده. (درانی، ۲۰۰۰: ۴۲)
په همدې ډول يو بل بيت دی:
"قاتل به نه يې، خو زه دومره ګواهي ورکوم
توره دې تکه سپينه يووړه، تکه سره دې راوړه
دا بيت داسې دی، لکه د يوې مکالمې ځواب چې وي. هغه مکالمه څه کېدی شي چې دا بيت يې په ځواب کې ويل شوی؟ فرض کړئ، يو قتل شوی او قاتل نامعلوم دی، خو شاعر ته معلوم دی. قاتل زورور دی او شاعر ته وايي چې د ده په اړه ګواهي ورکړي چې قاتل نه دی. شاعر يې په ځواب کې وايي:
قاتل به نه يې، خو زه دومره ګواهي ورکوم
توره دې تکه سپينه يووړه، تکه سره دې راوړه
دا پورته سناريو ټوله حذف شوې، خو بيت دومره ګويان دی چې دا ټوله کيسه راته کولی شي. (درمل، ۱۳۹۵: ۴۰۴ـ ۴۰۵)

## عاطفي کيف

د درويش دراني د شعر يو بل اړخ دا هم دی چې د پياوړې عاطفې لرونکي دي، خو دا عاطفه هم په داسې انداز او د کلماتو په داسې اوډنې سره وړاندې کوي چې نرمښت په کې ښې وهي. نوموړی چې د بېلتانه کوم حال بيانوي، نو دا چې د الفاظو شدت يې زيات واوسي، کم وي.
بېلتانه يم داسې حال ته رسولی

یار د بل درومي او زه ورپسې ژاړم

په دې بیت کې چې د کوم حالت منظرکشي وړاندې شوې ده، باید د سړي غوښې یې ودرولی، خو داسې نه ده او همدا لامل دی، کله چې اجمل ښکلی د احساساتو او عواطفو له مخه د پښتنو شاعرانو ویش کوي، نو درویش درانی منځلاری شاعر ګڼي او وایي: "موږ خپله پښتو شاعري په دې دریو کټګوریو ویشلی شو. د احساساتي شاعرۍ شاعران، منځلاري شاعران او وچ فکري شاعران. په لومړۍ ډله کې ګومان کوم، خاطر اپریدی، رحمت شاه سایل، پیرمحمد کاروان، جیلاني جلان او...، په دویمه کې صاحب شاه صابر، استاد محمد صدیق پسرلی، درویش درانی او په دریيمه ډله کې یې ډېر دي. (ښکلی، ۱۳۹۴: ۱۰)

همدا راز احسان الله د پورتني بیت د بېلګې په وړاندې کولو سره کاږي: "ځینې مهال د شعر پر فضا عاطفه داسې حاکمه وي چې فکر موندل په کې سخت شي. ممکن کله کله فکر او عاطفه داسې سره ګډ وي چې له یوه بله یې بېلول ناشوني وي او یا دا ستونزمنه وي چې ووایو: فکر پر عاطفه غالب او یا بر عکس. د کروچه په نظر همدې ډول شاعرۍ ته ایډیاله شاعري وایي. په دې شاعرۍ کې شاعر ته فکر تر عاطفي او انفعالي حالت وروسته ورپیدا شوی وي او په دې توګه فکر او عاطفه لکه د سکې دوه مخونه د شعر په ارزښت کې خپل نقش ادا کوي. (درمل، ۱۳۹۵: ۳۵۰ - ۳۵۱)

درمل خپل دغه بحث غځوي: "د استاد شاعر درویش دراني په شعرونو کې نوي تصویرونه، نوي تشبیهات او نوې استعارې کمې موندلی شو، خو بیا هم هغه زموږ د زمانې د ګوتو په شمار لویو شاعرانو په کتار کې هسکه غاړه ولاړ دی. دلیل یې دا دی چې د دې استاد شاعر د تصویرونو تر شا چې کوم عواطف او له عواطفو سره ګډ شوي فکرونه سترګکونه وهي، هغه ټول نوي دي. توره، اس او جنګ زموږ د شاعرۍ مشترک موتیفونه دي، خو په دې دریو تکراري عناصرو کې چې درویش کومه نوې ساه پوکلې ده، هیڅ پښتون شاعر یې سیالي نه شي کولی.

ما خپله توره کړه د ورور په زړه کې ماته خدایه!

چې دښمن راغی زه په دوه لاسه ؤم پاته خدایه!

په دې تصویر کې عناصر نوي نه دي، خو تر شا یې چې کومه عاطفه او انساني فکر ځپې وهي، هغه بالکل نوي نوزي دي او درویش د همداسې نویو عاطفي او فکري زمینو د شعر کولو شاعر دی. (درمل، ۱۳۹۵: ۳۵۸)

دا احساسات، افکار او عواطف هغه بارز نکات دي چې د درویش دراني د شاعرۍ عمده ځانګړتیاوې رانغاړي، خو درویش هغه ځوک دی چې د احساساتو او عواطفو تر مینځ یې توازن برقرار ساتلی دی او پر هغې باریکې پولې روان دی چې د دغو احساساتو او عواطفو راکښل شوې

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

ده. یوازېنی ادیب چې د درویش په شـاعرۍ کې دغه ټکی په نښـه کړی، هغه اجمل ښـکلی دی چې دغه ټکی یې درک کړی او وایي: "په شـاعرۍ کې د نرۀ احسـاسـاتو او وچ عقلیت تر منځ مېنځنۍ لار هم شته او هغه دا چې شاعر استدلال په نرۍ عاطفي پرده کې تاو کړي.

درویش وایي:

دا د ګلاب په یارانه کـې ویل نه دي په کار
چې زه نو څه له تر اغزي پورې راورسېدم
چې زه به کله مخامخ شـوم له رقیبه سـره
مـا بـه ویـله تـر اغـزي پـورې راورسېـدم

په دواړو بیتونو کې پیاوړی شاعرانه استدلال ښکاري، خو ورسره عاطفه هم خپره ده. دواړه بیتونه راته ښیي چې شاعر خپل احساسات قابو کړي دي او شاعرانه استدلال یې هم خپلسرۍ ته نه دی پرېښی. د درویش ټوله شاعري د فکري او عاطفي توازن ښه بېلګه ده او دا متوازن عواطف او فکر یې د سبک لویه کونجي ده.

د همدغو متوازنو عواطفو او فکر له امله سېمبولېستانو په شاعرۍ کې د رومانتېستانو پر خلاف له نرۀ احسـاسـاتو سـره مخالفت ښوولی او د احسـاسـاتو پر ځای یې په شـاعرۍ کې د کیفیتونو کلمه کارولې ده چې د درویش دراني شاعري د دې کیفیت ښه بېلګه ګڼلی شو. (ښکلی، ۱۳۹۴: ۹)

لیکوال او شـاعر نعمت الله صـدیقي په خپلې یوې لیکنې زموږ د هغې خبرې پخلی کوي چې په سـریزې مو راوړې ده او داسې یې پیلوي: "د درویش صـاحب هغه هنري مطالعه چې د څو لسیزو شاعرانه محصول یې بللی شو، د ده د ذات له شخصیت سره بېخي یو شان دی یعنې د شعر سبک یې په خارجي حواله د ژبې او الفاظو او د هغې مناسـب اوډون یې هغه څه دي چې د درویش صـاحب د ذات، ذهن او شـاعرانه مفکوره، جذبات او کیفیات یې سـره په امتزاجي ډول یو کړي دي. د درویش د همدې امتزاجي سبک په بنیاد ډېرې هغه توندې او تېزې خبرې یې هم په سوړ او نرم انداز لولو چې کېدی شي په نورو سبکونو کې یې دا ډول ونه لولو.

دی وایي:

د وطن په هدیرو کې وي درویشه!
هـره شپه نـرۍ ژړا او ځـراغـونـه

په دې بیت کې وینو چې د وطن د خورا خونړۍ المیې بوږنوونکی انځور کښـل شـوی دی، خو درویش صاحب معمولاً د خپل ګڼ سبک له مخه په همغه نرم انداز بې له کوم عصبانیته دا تصویر زموږ مخ ته ږدي. د دې سوړ سبک افاده د درویش صاحب د خپل سبک د خصوصیاتو عمده ځانګړنه ده چې زما په فکر عموماً په ادبیاتو کې د هر چا لپاره له موضـوعي پلوه دا سـبک د اغېز

په مانا ډېر جالب سبک دی. (صدیقي، ۱۳۹۵: ۱۰۷)

## انسان پالنه

په ټوله کې د درویش شعر پر انسان، انساپالنې او انساني مسایلو راڅرخي او فردي آزادۍ ته ژمن دی، خو په دې بیت کې وایي چې که په نړۍ کې انســـان آزاد پیدا دی او د آزادۍ حق لري، خو هغه وګړي چې نورو ته یې شر رسېږي، نو تړلي ښه وي.

آزادي د انسان حق دی په جهان کې

مګر ځینې انسانان تړلي ښه وي. (دراني، ۲۰۰۰: ۷۶)

په پای کې باید ووایو چې د یوه ژوندي هنرمند په اړه دا ډېره ســـخته ده چې ســـړی دې په زغرده نظر ورکړي او د هغه بشپړې سبکي ځانګړتیاوې دې رابرسېره کړي، ځکه چې ژوندی هنرمند لا هم بوخت دی او ټولنې ته نورې پنځونې وړاندې کوي او ښایي چې په هغو کې یې څه نوي مسایل رامنځته شي.

## پایله

عبیدالله درویش دراني د لوی پښتانه د کهاله هغه شاعر دی چې په خپلو اشعارو او نظمونو کې یې د خپل ځپلي ولس لپاره د شعر او لیکنو له لارې داسې بلبنډې بلې کړې دي چې هغوی ته په تورو تیارو کې د لارې مشال دي او د هغوی ذهنونه به پرې تنویرېږي.

د ده د شـــعر د بېلابېلو خواږ تر کتلو او ارزولو وروســـته په زغرده ویلی شـــو چې نوموړی یو مفکر شاعر دی او خپلو شعرونو کې خپلو خلکو ته د ویښتیا او بیدارۍ درس ورکوي.

په شعر کې ا حساس او عاطفه هغه توکي دي چې که ترې وایستل شي، نو د شعر اصلیت له مینځه ځي. د درویش دراني په شـــعر کې دغه دواړه توکي په پراخه پیمانه موجود دي او د یوه بریالي شـاعر په توګه د دغو دواړو توکو تر مینځ د توازن په رامینځته کولو سـره موازنه برابره سـاتي یعنې نه ترې احســـاســـات او هیجانات دومره زیاتېږي چې په خلکو کې ســـخت جوش او عصـــبانیت راوزېږوي او نه هم دومره زیات عواطف راوړي چې خبره دې د نرموالي او ســـوړوالي تر حده ورسېږي، بلکې د احساساتو او عواطفو تر مینځ پر باریکې پولې او لارې خپل سفر کوي او د دواړو د امتزاج په پایلې کې یې یوه مینځ لاره غوره کړې ده او د همـدغې مینځلاریتوب لـه مخـه د ده سبک ته مور مینځلاری یا معتدل سبک وایو.

## وړاندیزونه

د دې څېړنې په پای کې لوستونکو ته لاندې وړاندیزونه لرم:

۱. د درویش دراني د شاعرۍ په اړه دې علمي بحثونه ،سمینارونه او کنفرانسونه تر سره شي.

۲. علوم اکاډمی دې د درویش دراني ناچاپ آثار چاپ او د ادب مینه والو ته ډالۍ کړي

۳. د یوې رسالې او مونوګراف په ډول دې د درویش دراني د نظمونو هر اړخیزه فني او موضوعي شننه ترسره شي.

۴. د درویش درانی د شاعرۍ سبکی او تخنیکي اړخونو ته په کتو دې معاصر شاعران د مضمون تنوع ته ځانګړې پاملرنه وکړي

۵. اړینه ګڼم چې د درویش په شعر کې دې د څراغ، ډیوې، بلا، مرګ، دښمن او همداسې نورو ډېرو کلماتو په اړه چې بېلابېلې ماناوې ښـــندي، د یوې ځانګړې مقالې په لمنې کې وربانده‌ې بحث وشي.

## اخځلیکونه

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۸۷ل). استاد شپون او درویش په ننګرهار کې. ننګرهار: د ختیځې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه.

بدر، صدیق الله. (۱۳۸۹ل). د لونګو دریځې، ننګرهار: د ختیځې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه.

دراني، درویش. (۲۰۰۰م). ستوري په لمن کې- څلورم چاپ. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

دراني، درویش. (۲۰۰۹م). په ناورین پسې ناورین- دویم چاپ.کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

دراني، درویش. (۲۰۱۴م). کر د ګلو- دویم چاپ. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

درمل، احسان الله. (۱۳۹۵ل). شعرستان. کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.

ښکلی، اجمل. (۱۳۹۴ل). ادبي زاويې. پکتیا: علمي خپرندویه ټولنه.

صدیقي، نعمت الله. (۱۳۹۵ل). ادب، تنقید او تیوري. ننګرهار: کتاب خپرندویه ټولنه.

غضنفر، اسدالله. ( ۱۳۹۳ل). جادوګر هنر. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

وفا محمد داود. (۱۳۹۸ل). د پښتو معاصر ادب تاریخ څلورم پړاو. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

هاشمي، سید محي الدین. (۱۳۸۱ل).ادب پوهنه. پېښور: د اریک د کتاب ګرځنده کتابتونو اداره.